۲۳ لاربنود

پر عایداتو د مالیاتو څخه د غیر انتفاعي سازمانونو د معافیت تاییدونه

منل | خدمت | ډاډ

اطاعت پذیری | خدمت | اطمینان

Compliance | Service | Making Sure

د عوایدو لوی ریاست
ریاست عمومی عواید
Afghanistan Revenue Department

## سریزه

غیر انتفاعي موسسې کولای شي د خصوصي **طرزالعمل** د ترلاسه کولو لپاره ۱) د ۱۳۸۷ کال پر عایداتو د مالیاتو له قانون سره سم، ۲) د افغانستان د نادولتي موسسو د نافذه قانون سره سم او ۳) د هغو اړوندو معاهدو سره سم چې د نادولتي موسسو پر اهدافو او تمویلي وضعیت تطبیقیږي، د عوایدو لوی ریاست ته غوښتنلیک وړاندي کړي چې له مالیاتي معافیته برخمنې شي.

**۲۳ لاربښود – له مالیاتو د غیر انتفاعي نهادونو د معافیت تایید**

غیر انتفاعي اداري کولای شي د عوایدو لوی ریاست ته د خصوصي **طرزالعمل** لپاره درخواست وړاندې کړي او په دې توګه د خپل مالیاتي مکلفیت د حقوقي تعبیر پر بنسټ او د ۱۳۸۷ کال پر عایداتو د مالیاتو د قانون په اړه د هغوی د فعالیتونو پر بنسټ مالیاتي معافیت لاسته راوړي. د غیر حکومتي نهادونو په اړه د افغانستان قوانین او اړوندې معاهدې د نهاد د موخې او تمویلي وضعیت په اړه تطبیقیږي.

## خصوصي طرزالعمل څه شی دی؟

خصوصي **طرزالعمل** د مالیاتي معافیت په برخه کې په یوه ځانګړي وضعیت باندې د ۱۳۸۷ کال پر عایداتو د مالیاتو د قانون د تطبیق حقوقي تفسیر د غیر انتفاعي موسسې غوښتونکي ته په واک کې ورکوي. هغه اسناد چې خصوصي **طرزالعمل نه ګڼل کیږي** په لاندې ډول دي:

شرایط

هغه غیر انتفاعي موسسې چې د نادولتي موسسو له قانون سره سمې (۸۵۹ نمبر رسمي جریده، د ۱۳۸۴ د چنګاښ ۱۵مه) تاسیس شوې دي، کولای شي د عوایدو لوی ریاست ته د مرستو ، بېلاعوضو مرستو او نورو لازمو فعالیتونو له درکه د خپلو مالیاتي مکلفیتونو په اړه د خصوصي **طرزالعمل** غوښتنلیک وړاندې کړي لکه څنګه چې د ۱۳۸۷ کال پر عایداتو د مالیاتو د قانون په ۱۰مه ماده کې صراحت لري.

د دې لپاره چې شرايط پوره کړي، موسسه بايد:

• په ځانګړې توګه د تعليمي ، فرهنګي، ليک لوست، علمي او نورو خيريه اهدافو لپاره فعاليت وکړي. مرستندويان، سهم لرونکي، غړي او کارکوونکي نه شي کولای د دغې موسسې دفعاليت يا فسخه کېدو په جريان کې له موسسې څخه برخه من شي.

• د نادولتي موسسو د قانون له مخې بايد د اقتصاد له وزارت سره ثبت شي. اما د ۱۳۸۷ کال پر عايداتو د مالياتو د قانون د ۱۰مې مادې لمخې، يوازې دغه شان ثبتېدل موسسې ته دا امتياز نه ورکوي چې له مالياتو معاف شي. د داشان معافيت شرط دا دی چې د يادې موسسې اهداف او فعاليتونه هغه مقررات پوره کړي چې د ۱۳۸۷ کال پر عايداتو د مالياتو د قانون په ۱۰مه ماده کې جوت شوي.

غير انتفاعي ادارې کولای شي د عوايدو لوی رياست ته د خصوصي طرزالعمل لپاره درخواست وړاندې کړي او په دې توګه د خپل مالياتي مکلفيت د حقوقي تعبير پر بنسټ او د ۱۳۸۷ کال پر عايداتو د مالياتو د قانون په اړه د هغوی د فعاليتونو پر بنسټ مالياتي معافيت لاسته راوړي. د غير حکومتي نهادونو په اړه د افغانستان قوانين او اړوندې معاهدې د نهاد د موخې او تمويلي وضعيت په اړه تطبيقيږي.

خصوصي طرزالعمل څه شی دی؟

خصوصي طرزالعمل د مالياتي معافيت په برخه کې په يوه ځانګړې وضعيت باندې د ۱۳۸۷ کال پر عايداتو د مالياتو د قانون د تطبيق حقوقي تفسير د غير انتفاعي موسسې غوښتونکي ته په واک کې ورکوي.

هغه اسناد چې خصوصي طرزالعمل نه کنټل کيږي په لاندې ډول دي:

• د مالياتي معافيت تصديق ليک، که چېرې يوه موسسه خپل ټول کاري فعاليتونه په خصوصي طرزالعمل کې په ډاګه کړي، بيا هم اغېزه پرې لري.

• د مالياتو داطاعت پذيرۍ تصديق ليک، خصوصي طرزالعمل په دې باب څه اشاره نه کوي چې يوې موسسې تر کومې کچې د۱۳۸۷ کال پر عايداتو د مالياتو د قانون څخه اطاعت پذيري کړې ده.

• داخلي قانون، اصول او مقررات، هر ډول تفاهم لیک یا د موسسې اساسنامه؛

• د ارزول شوي بېلانس اوسنۍ کاپي او داسې نور مالي صورت حسابونه چې د محاسبې د نړیوالو معیارونو لمخې چمتو شوي وي؛

• د کارکوونکو، رییسانو، مشرانو، مرستیالانو، منشي، خزانه دار، مدیر، او نورو اداري مسولینو نومونه، پتې او د ټلېفون شمېرې، د امکان په صورت کې، د دوی تر منځ فامیلي اړیکې؛

• د نادولتي موسسو په اړه د قانون له مخې د موسسې د ثبتولو په موخه د ارزونې دستر کمېسیون (HEC) لخوا صادره شوې ارزونه؛

• د موسسې د اضافي بودجې د تطبیق صورت حساب، او

• د هغو خیریه فعالیتونو یا پروژو د اعانو، مرستو، حق العضویتونو او د بلا عضوه مرستو لړلیک چې یادې شوې موسسې ترسره کړي دي.

ژبه: دعوایدو د ریاست د مکلفیت لمخې، ستاسو غوښتنلیک باید په دري یا پښتو ژبه ولیکل شي. دغه راز، د انګلیسي یوه کاپي یې هم د مراحلو پهاسانه کولو کې مرسته کوي. مګر حمایوي یا ملاتړو اسنادو ته په کار نه ده چې په دري یا پښتو ژبه وژباړل شي. نور اسناد چې پرته له دري، پښتو یا انګلیسي ژبې لیکل شوي باید په یو له دغو ژبو وژباړل شي.

که چېرې د مالیاتو د قانون د ۱۰مې مادې لمخې یوه موسسه له مالیاتو معاف وپېژندل او منظوره شي، د عوایدو لوی ریاست یادې موسسې ته داسې خصوصي طرزالعمل صادروي چې معافیت یې تایید شي. دغه معافیت تر هغه مهاله قانوني او معتبره پاتې کیږي مګر دا چې د خصوصي طرزالعمل لپاره د غوښتنلیک په حقایقو کې بدلون راشي او له دې کبله یاده موسسه د دې وړتیا نه لري، یا د مالیې وزارت دغه معافیت دعوایدو د ریاست د معلوماتو له مخې لغوه اعلانوي.

غوښتنلیک:

دعوایدو لوی ریاست هغو موسسو ته معافیت صادروي چې د خصوصي طرزالعمل لپاره غوښتنلیک وړاندې کوي او د خپلو اسنادو په مرسته د مالیاتو د معافیت د وضعیت سره سم شرایط پوره کوي. د غوښتنلیک د وړاندې کولو لپاره غیر انتفاعي موسسې باید لاندې پړاوونه طی کړي:

۱ پړاو- ثبتول

هره غیر انتفاعي موسسه د اقتصاد له وزارت سره د نادولتي موسسو د قانون له مخې ځان ثبتوي او له اړونده قانون څخه اطاعت کوي.

۲ پړاو- د غوښتنلیک سپارل

هره غیر انتفاعي موسسه خپل غوښتنلیک چې د رئیس یا منشي لخوا لاسلیک شوی وي، د عوایدو لوی ریاست ته یې له لاندې ضمیمو سره یوځای سپاري:

بنسټ لغوه شي او وروسته له دې یاده موسسه د دغه اقدام پر وړاندې د اعتراض لپاره، یوازې محکمې ته د ورتګ موقع لري.

د ریپوټ ورکولو شرایط او مکلفیتونه

له مالیاتو څخه د معاف شوې نادولتي موسسې منل موسسې ته دا حق نه ورکوي چې یوه موسسه دې د **۱۳۸۷** کال پر عایداتو د مالیاتو د قانون لمخې د ریپوټ له ورکولو، پرعایداتو د مالیاتو د اظهارلیک له ډکولو (**۸۸**مه ماده)، د ارزول شوو حسابونو، داسنادو له ساتلو (**۳۶**مه ماده)، د تنخواګانو او مزدونو له موضوعي مالیې **۵۸**مه ماده)، د کورونو د کرایو له موضوعي مالیاتو (**۵۹**مه ماده) او د موضوعي مالیاتو د صورت حسابونو له سپارلو او چمتوکولو څخه (**۲۱** او **۲۲**مه ماده) وبښل شي.

دوه اړخیزه تړونونه او د مالیاتو د معافیت وضعیت

که چېرې غیر انتفاعي موسسې په هغو بشردوستانه او پراختیایي فعالیتونو کې بوختې وي چې له بسپنه ورکوونکي هېواد، نړیوال سازمان یا نړیوال مالي نهاد سره د تړون لمخې تمویلیږي لکه څنګه چې د **۱۳۸۷** کال پر عایداتو دمالیاتو د قانون د **۱۰**مې مادې په **۱** او **۲** جز کې یادونه شوې، دغه موسسې هغو اصولو ته تابع دي چې په قراردادیانو پورې اړه لري چې د موسسې پر معافیتي وضعیت هم اغېزه کولای شي.

د اقتصاد وزارت د دیپلوماتیکې ادارې د رئیس په غوښتنه د نادولتي موسسو د قانون د **۸**مې مادې د **۷** جز له مخې، بسپنه ورکوونکي هېواد ته په خپل ځواب کې، دا واک لري چې غیر انتفاعي موسسې

د غوښتنلیک لېږل: دغه راز، غوښتنلیک باید په کابل کې د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست د خصوصي طرزالعملونو او د مالیاتي معافیت د ریاست په عنوان وي او ورواستول شي.

۳ پړاو - د اړتیا په صورت کې د لازیاتو اسنادو وړاندې کول

د عوایدو لوی ریاست مخکې له دې چې طرزالعمل صادر کړي د لازیاتو اسنادو غوښتنه کوي.

صدور، داعتبار موده او شرایط

د عوایدو لوی ریاست د ټولو اړوندو اسنادو د ترلاسه کولو له نېټې څخه د ۲۱ رسمي ورځو په موده کې طرزالعمل صادروي. د عوایدو لوی ریاست د دوسیې یوه ځانګړې شمېره د موسسې د راتلونکي مراجعې لپاره ټاکي.

دغه خصوصي طرزالعمل:

- د ۱۳۸۷ کال پر عایداتو د مالیاتو د قانون د ۱۰مې مادې له لمخې له مالیاتو څخه د موسسې د معافیت وضعیت بیانوي؛
- د موسسې له لازمو فعالیتونو څخه د مرستو او عوایدو له درکه معافیت بیانوي؛
- د رپوټ ورکولو او موضوعي مالیې مکلفیتونه بیانوي چې موسسه یې د ۱۳۸۷ کال پر عایداتو دمالیاتو د قانون لمخې اطاعت پذیري کوي.
- دغه خصوصي طرزالعمل معتبره پاتې کیږي مګر دا چې د مشخصو دلایلو پر

3) یادونه: د دوه اړخیزه یا څو اړخیزه تړون له مخې د مالیاتي معافیت کړنلاره په ۷ نمبر لاربښود کې شرحه شوې ده. که چېرې له صادر شوي طرزالعمله داسې استنباط وشي چې د موسسې عواید له یاد شوي قرارداده له مالیې معاف دي، د یاد شوي طرزالعمل کاپي دې له کلني مالیاتي اظهارلیک سره یوځای شي ترڅو داوښي چې هېڅ مقدار د پیسو د مالیې وړ نه ده. که چېرې عواید له مالیاتو معاف و نه ګڼل شي، د ورکړې وړ مالیات دې له کلني مالیاتي اظهارلیک سره یوځای ورکړل شي؛

4) د معافیت لپاره هغه عمومي طرزالعمل ته مراجعه کوي چې د بسپنه ورکوونکي هېواد، نړیوال مالي نهاد یا څو ملیتیزه سازمانونو لخوا د عوایدو له لوی ریاسته ترلاسه شوی او دغو مرستندویه سازمانونو دغه موسسه په کار ګومارلې او پروژه یې هم تمویل کړې ده.

فیسونه او لګښتونه

د خ د خصوصي طرزالعمل د ترلاسه کولو، د مالیاتو د راټولولو یا د تطبیق د پروسې لپاره د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست ته هېڅ ډول فیس یا لګښتونه نه ورکول کېږي.

کاري جوازونه او مالیاتي تصفیې

که چېرې یوه موسسه د مالیې وزارت د عوایدو له لوی ریاسته د رسمي مکتوب غوښتنه وکړي چې خپل کاري جواز نوی کړي، موسسې ته په کار ده چې په کابل کې د عوایدو د ریاست د منځنیو مالیه ورکوونکو له ادارې سره اړیکه ونیسي.

ته د یو شمېر ځانګړو مالیاتو څخه د معافیت امتیاز ورکړي له دې جملې څخه د قراردادونو موضوعي مالیات چې د دغه راز معاهدو یا دوه اړخیزه تړون لمخې ترسره کېږي.

د یوه ټاکلي وزیر یا دولتي چارواکي او ټاکلې موسسې ترمنځ د هر ډول مالیاتي معافیت په باب ماده په یوه تړون کې د قانون د ۱۱۱ مادې له مخې غیرقانوني کار ګڼل کېږي.

خو له افغان دولت سره په دوه اړخیزه تړون کې د یوه قرارداد په ګټه چې د مالیاتي معافیت ماده شامله وي، قانوني حیثیت لري.

که چېرې نادولتي موسسې په دې باور وي چې دوه اړخیزه تړون دوی د مالیاتو له مکلفیته معافولای شي، موسسې په لاندېنیو درېو ممکنه مواردو باندې پرېکړه کوي:

1) نور هېڅ کارونه ونه کړي او یوازې هغه چارې او فعالیتونه ترسره کړي چې د مالیې تابع نه وي. که چېرې دغه موسسې وارزول شي او دوی د دې جوګه نه وي چې له خپلې نظریې دفاع وکړي، دوی د مالیاتو او جریمو په ورکړې مکلفې ګڼل کېږي.

2) موسسې د خصوصي طرزالعمل لپاره يو غوښتنليک او مکتوب د عوايدو لوی رياست ته ورسپاري چې د مالياتي معافيت لپاره قانوني دلايل وړاندې کړي او ورسره نور اړونده اسناد لکه د قرارداد کاپياني، د بلا عوضه مرستو او اعانو شواهد او داقتصاد له وزارته اجازه ليک هم يوځای کړي.

گمرکي محصولات او نور ماليات

د خصوصي طرزالعمل پورته ياده شوې پروسه د ۱۳۸۷ کال پر عايداتو دمالياتو له قانون سره سمون خوري او يوازې پر عايداتو د مالياتو پر موضوعاتو پورې تړلې ده. د عوايدو لوی رياست د نورو مالياتو پر موضوعاتو يا د گمرکي محصولاتو په برخه کې طرزالعمل نه صادروي. نادولتي موسسه کولای شي د نورو مالياتي موضوعاتو لپاره د حکومت له اړونده ادارې سره اړيکه ونيسي. د گمرکي محصولاتو د معافيت په باب د معلوماتو لپاره، نادولتي موسسه بايد په کابل کې د ماليې وزارت د گمرکاتو له رياست سره اړيکه ونيسي.

تطبيقي احکام

د ۱۳۸۷ کال پر عايداتو دمالياتو د قانون له مقرارتو څخه د سرغړونې پايله دا ده چې د ماليې وزارت د عوايدو لوی رياست د ۱۴ او ۱۲ نمبر فصل له مخې له خپل اداري او قانوني واک او صلاحيته کار اخلي چې په دې کې اضافي ماليات او جريمې شاملې دي. که چېرې اطاعت نه کول د مالياتو له مکلفيته تېښته وي، سرغړوونکی شخص د څېړنو او عدلي تعقيب لپاره لويې څارنوالۍ ته راجع کېږي.

مالياتو اړوند مالومات

د عوايدو لوی رياست اداري او مستوفيتونه ماليه ورکوونکو ته په وړيا توگه فورمې، لارښودونه او لارښوونې وړاندې کوي چې دا مواد په چاپ شوې او همداراز له يوه نوې ويب پاڼې http://www.ard.gov.af څخه د راښکته کيدو وړ بڼو ترلاسه کيدای شي. ياده ويب پاڼه د عوايدو د لوی رياست او مستوفيتونو موقعيتونه، د اړيکو شميرې او کاري ساعتونو په اړه مالومات وړاندې کوي. ماليه ورکوونکي همداراز کولای شي نور گټور مالومات لکه عامې خبرتياوې او طرزالعملونه، د معاش د موضوعي

ماليې په اړه پوښتنې او ځوابونه، د ۱۳۸۷ کال پر عايداتو د ماليات قانون، او تعليماتنامه ترلاسه کړي. ياده تعليماتنامه د قانون هره ماده او اړوند مقررات په جلا توګه څيړي او د ګڼو بيلګو په لرلو سره ماليه ورکوونکو ته لا ډيره آسانتيا په برخه کوي.

001E 01 03 2012

د افغانستان اسلامی جمهوريت
د ماليی وزارت
د عوايدو لوی رياست
۱۳۹۱

Islamic Republic of Afghanistan
Ministry of Finance
Afghanistan Revenue Department
1391
*www.ard.gov.af*

جمهوری اسلامی افغانستان
وزارت ماليه
رياست عمومی عوايد
۱۳۹۱